انجنير عبدالصبور ساپی ۲۰۱۲/۰۱/۱۱

# دامریکې اوناتوماته اودافغانستان د تجزیې هڅې

## لاتراوسه ئې ماغزه په قرارنه دي        چاچې ماسره وهلې سرپه سنګ دی

داډيره دحيرانتيا ځي نه ده چه نن دګران افغانستان په ضد ناوړه لاسونه کارکوي اوغواړي دا ټاټوبی دخمارخولې ته واچې اوداسې يوه بله غميزه په دغه ملک راولي چې داورلمبوته ئې جهانته دوژولو توان نوي، تاريخ ثابته کړی ده چې افغانانو هيڅکله يرغلګرو په وړاندې په ګونډوشوي نه دي، هرکله چې ددغه ملک دښمنانولاسونه سره يوکړي چه داملک وځپي خوبيا دسختی ماتې سره مخ شوي، زه دلته نغواړم هغه تاريخ ته اشاره وکړم چه ټول افغان ملت ترينه خبردي، خونن ورځ يوسه دپخواسره توپيرلري نه جنګونه هغه جنګونه دي چې پخوا ول، نن تکنالوژی، دجنګ تاکتکونه، وسلې، قوي اقتصاد غواړي او وچت تدبيرکولای شي چه دجنګ ملا وتړي، ترهرڅه نه ترمخه هرومروپه يوې خبرې سوچ وشي چې هيڅ کله داسې يوعمل باندې لاس پورې نکړی شي چه راتلونکې ئې بياناوړه پايلې ولري چه کلونه کلونه ئې په اورکې وسوځو.

په سياست که نه دايمی دوستان شته نه دايمی دښمن، هرڅوک خپل ګټوته کارکوي اوښه سياستمدارهغه ده چې هررنګه حالات خپل په ګټه وڅرخوي،که نن موږدامريکه سره کښېنواوخبرې کوبايد داهم په ځان ومنوچه موږيومعامله ترسره کوپه دامعامله کې څه دلاسه ورکوو اوڅه به په لاس راوړو،اوس هغه څه چه موږدلاسه ورکووايا دې کې زموږ ځومره راتلونکې ته زيان پېښيدلی شي اوموږ کولې شو راتلو نکې ئې تضمين کړوکه نه ؟
که چېرته سل په سل وکې داسې يوضمانت موږسره نوي نودهغه کارنه بايد ډډه وکړو، لکه اوس د فدرال نظام دمنځته راوړل په داسې شرايطو کې چه افغانستان اکثريت خلک بيسواده دی زورواکان هره خوا قوت لری دافغانستان ټول خلک لاتروسه خپل افغانی هويت دثبوت لپاره يوه تذکره هم نلری اوکه لري ئې يوزيادشميرجعلی دی،اودنن ورځ تکنالوژي اوکمپيوتری کارتوتيک سيستم لاتراوسه نه دی جوړشوی اوله هرڅه مهم داچې ۳۰کاله جنګ زموږټول اداري جوړلښت ئې له منځه وړي ده اردو اوپليس اوامنيت موبشپړل توان په ټولووضعيت باندی نلري، دګاونډيو اجنتان اوپه تېره دايران اوپاکستان اجنتان لاپراخ لاسرسی په افغانستان کې لري،اقتصادی قدرت زموږټوټه ټوټه ده تراوسه په مرستو استوارده، داټول هغه انديښني دی چه فدرالي نظام موږته په دې شرايطوکې سختې ناوړه پايلې درلودی شي۰دبله خوا موږ دمجاهدينو په وخت کې غيررسمې فدارالي حکومت تجربه کړې ده لکه اسماعيل خان په هرات ، حاجی قديرپه ننګرهاراولغمان ،احمدشاه مسعود دپروان وتخاروبدخشان و دوستم په مزاروفارياب اوشبرغان دغه دوره چې هرڅوک پياد راوړي نوديو وحشت دوره وه چه تيره شوه۰
دالمان دولت هم فدرال ده خومرکزي دولت دومره قوی ده چه هيڅ يوايالت نشي کولای چه دمرکز خلاف قدم وچت کړي ځومره مخکې ميرمن انجيلامرکل دبايرن دايالت رئيس ښاغلی شويبلر داسې له کار بيرته کړاوله سياسته ئې ګوښه کړچه چاتصورهم نشوکولې ځکه هغه ځودورې پاتې شوې و، خو په افغانستان کې ښاغلی کرزي ونشوکولې دمزارولي عطامحمد نور چه ځومره سپکې سپورې ښاغلی کرزی اومرکزی دولت ته وکړې خوبياهم خپل په زوردولايت په مقام قبضه اچولې ده اوڅوک ورته څه نشي ويلې۰ اوداهم وای چې رياستي نظام ټولواک ده ظالم ده اودچاخبره نه اورېدلکېږي خوټول قدرت د ټوپکماروپه لاس کې ده ۰
راپارونکې حرکات اودهغه مقصد:
هغه ستراتېژي چې امريکادجهان لپاره جوړه کړې ده اودهغه مقصدحکومت کول په جهان دي اورنګارنګ نقشې ورته راويستلې دی په هغوکې دجهان دويشولو اولوی ملکونه په وړوملکونه تقسيمول لکه يوګسلاويا ټوټه کول دلوی اسرائيل رامنځته کول اوهمدارنګه دعرب وايران ، افغانستان، او پاکستان ټوټې کول شامل دی خودانقشه لاتروسه هغه سې چې دوی ګڼله لا پلې شوې نه ده په عربی ملکونوکی اسلامی ډلې قدرت ته ورسېدل لکه مصرکې اخوانيان په تونس کې هم اسلامګرايان منځته شول يمن ،سوريه او اردن کې لا معلومه نه ده خواوس امريکه غواړي چې همدغه انقلابونه د خپل ځان په ګټه راوړوي خوزموږ مقصددافغانستان حالات دي چه بايدهغه ته پاملرنه وکړواودنورباندې خبرې نکوو۰
په لندن کې داستراتېژيکومطالعاتو بين المللی انستيوت (آی آی اس اس)(IISS) رئيس ښاغلی «جان چيمن» د ۲۰۱۰ کال دې دغه انسيتوت په پرانستونکې کالنۍ غونډکې وويل «هغوملکونه چې په افغانستان کې نظامی شتون لري صبراوحوصيله کمرنګه شوې ده ،هغه هدفونه چې دالقاعده ځپل و هغه ترسره شوې ده ۰۰۰اوس دغه انستيتوت


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

ولږاندیځ کوي چه افغانستانته یوفدرالي نظام ضرورده» باید ووایم چه دغه انستیتوت په لندن کې ډېر قدرلري اونظریاتوته ئې درناوی شته اوهم دامریکه لخواپه پټه د دغسې یونظام لپاره تلاشونه روان و،چه په دغه کارامریکه کولې شي چې په خپل او ناتو په ناکامیوپرده واچوي نو ځکه په افغانستان دشمالی ټلوالې په قدرت کې ساتل والیان تشویق ول دې ته چې دولایاتو او والیانو قدرت زیاد شي، دوالیانونه ملاتړکول، ملیشه ګروپونه جوړول، دافغانستان اردوته نه پاملرنه، د افغانستان ملی امنیت ریاست ته نه پاملرنه، په تیره بیا چې امرالله صالح رئیس و، تراوسه به چادیوځل لپاره هم نه ئې اوریدلي چه امرالله صالح د دغه ریاست دقوت په اړوند څه ویلې وي او دامریکا مرستې اوکوم امریکائې اوارپائې جاسوسان چې نن ورځ زموږ په وطن کې فعالیت کوی چې شمېرې زرهاوته رسیږي ،په دغه اړوندې کومه خبرکړې وي، داځکه چې ددوی سره دامریکاکارروان وه، کومه خبره چې امرالله صالح کړې ده هغه همیشه یوارخیځه وه او اوغوښتي چه دامریکا کم ناوړه پلانونه باندی پرده واچوي اوټوله ملامتیا دښاغلی کرزي په غاړه وغورځوی، دامرالله صالح دغه تهمتونه دښاغلي کرزی پرضدنه بلکه دپښتنوپرضدو چه دکرزی پر بهانه سرته رسیدل، لکه چې وائي « ژنرال دیوید پترائوس، فرمانده کل نیروهای بین‌المللی در افغانستان چند بار آقای کرزی را در سفر به قندهار همراهی کرد تا برای عملیات نظامی ناتو "بستر سیاسی" ایجاد شود، اما این بستر به وجود نیامد.» اوبیازیاتوي چې « این سفرها نشان می‌دهد که زعامت دولتی (افغانستان) دیگر توانایی ایجاد شبکه های سیاسی را در آن مناطق ندارد یا عمدا رئیس دولت نخواست در حمایت از جنگ دست به ابتکار های سیاسی بزند تا مردم را به طور نسبی بسیج نماید. »

دلته داخبرې ته که پام وکړو نویوخبره واضح ده چې ښاغلی کرزی تراوسه دیوځل لپاره ونشو کولې چې دشپې عملیاتومخه ونیسي نوڅنګه کولې شي چې د دومره یولوې تصمیم مخه ونیسي چه په قندهارکی د عملیات ونشي ، اویا وای چه «اگر دولت افغانستان منافع ملی را به خاطر معامله با طالبان زیر پا نماید، احتمال آن بسیار وجود دارد که کنترل مرکزی فرو ریزد و مردم به خاطر دفاع از شرف، عزت، تاریخ و ارزشها پناه به نهادهایی غیر از دولت ببرند ۰۰۰۰شکست استراتژیک طالبان مستلزم بسیج ملی در افغانستان و تقویت تفکر ضد طالبان در سطح ملی است که اکنون ارگ به آن اعتقادی ندارد. روی همین دلیل است که در ادبیات طالبان تغییری نیامده و آنها هنوز هم از خشونت حرف می‌زنند و از جنگ» امرالله صالح دلته دبسیچ ملی خبره کوی ګویاچې وښي چه څومره یووطن پالونکی ده خوکله چې ننګرهار ،کنراوپکتیا څنې ولسوالې ګانې دپاکستان دراکټي برید لاندې راغلې دیوځل لپاره هم دصالح دخولې داخبره ونوته چې ولې پاکستان راکټ اچوي اوامریکه چپه خوله ده، اویا امریکاباید خپل عملیاتونه دملکې وړړو پرضد بند کړي همداسي ډاکترعبدالله عبدالله تراوسه پورې یوورځ هم دامریکایانو دملکې وژنی اویا د پاکستانې راکټ پرضد کمه خبره ونکړه اوتل ئې دښاغلی کرزی حکومت دقوم اوقبیلې په نوم تکولې داځکه چې دوي قصداً غوښتل چې د لګکیوقومونو احساسات د دپښتنو پرضد راوپاروي، اودامرالله صالح داخبره چه ویلی دي؛ مقصد ښاغلې کرزی ده « این سفرها نشان می‌دهد که زعامت دولتی (افغانستان) دیگر توانایی ایجاد شبکه های سیاسی را در آن مناطق ندارد یا عمدا رئیس دولت نخواست در حمایت از جنگ دست به ابتکار های سیاسی بزند تا مردم را به طور نسبی بسیج نماید. » داخبره اشاره هغو تاجک بېلتون غښتونکه ته ده چې یعنی تاجاکانو تا سو پرضد یوبسیچ روان ده تاسی هم ځانونه سره بسیچ اویوموټی کړی۰

دامرالله صالح او عبدالله عبدالله خبرې چې تل دکرزی دمصالحې سیاست ئې ټکولې ده چه ولی دطالبانونه سره صلح کوی خوپه اصل کی دوي په خپله دې ټول پلانونه خبروه نوځکه امرالله صالح ویلې چې «به اساس تخمین‌ها فرضیه من این است که از امروز الی ۱۸ ماه دیگر ما به بن‌بست استراتژیک می‌رسیم. هیچ امکان ندارد که ناتو افزایش قوا را برای باردوم تجویز نماید و یا این‌که سطح موجود قوا در افغانستان را حفظ کند. آنها مجبوراند که بعد از ماه جولای قوای خود را کاهش دهند.» نن ۹ میاشتې له دغه وینانه تېرېږي اوس داغونډه دبرلین په ښارکې جوړه شوه چې دافغانستا ن برخه لیک د امرالله صالح وداروډستې په لاس ورکړې دصالح داخبرې اوداائتلافوجوړیدل اوبرلین ته شمالی ټوالې راتلل اوامریکا ئې سناتورانو سره داغنده بی ارتباط په نظرنراځي.

دامریکا له سفارته اعلامیه:
د۲۰۱۲میلادی کال جنوری په لسمه نیټه په کابل کې له امریکې سفارت نه یوه اعلامیه خپره شوه چه په هغه کې دافغانستان ځمکنۍ بشپړتیاته درناوی شوی، اوویل شوي چې دامریکا دبهرنیوچاروزارت د برلین په خبروکی کم لاس نلري.
دروسته ده چې ظاهراً لاس نلري خودا یواستخباراتي تلاش ده دذهنیتونواوعکس العملونو دمعلومولو اوراتلونکي ته لاره جوړه ول دي، اوداچې واي دافغانستان ځمکنۍ تمامیت ته درناوی لری ظاهراً دروسته خبرده ځکه دوی لمړی غواړي چه فدارتیف جوړکړي او ورو ورو لره خودمختاری اوبیا تجزیه ته هواره کړي ، خوکه نیت په رښتیا پاک وای تاسوبه پټې خبرې دافغانستان له دولته اویا دنور قومونو له اشتراکه پرته نکولی ځکه داغه اعلامیه ستاسو یو جعل وتېرباستلونه پرته بل څه نشي کیدلای.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

زما(ليكوال) لاتراوسه په داخبرې شک ده چې ايا امريکاغوارې واقعاً دافغانستان سره يو ستراتيژيک تړول لاسليک کړې اوکه دايو تاکتيک ده ديوهدف ته درسيدولو لپاره، ځکه دامريکا دې دغو منډوتر ندونه داجوته ده چې امريکه په بشپړه توګه په افغانستان کې ماته خوړلې ده نو ديوخوا دې دغه تړون لاسليک دپاره رنګارنګ بهانې کوي چه موږ تړون نه لاسليکه و يوه اعلاميه لاسليکه و او يواوبل ډول بهانې کوي ترسوله يوې خوا خلک په راتلونکې ناباوره کړي ترسودخلکوفکربل خواته واړوي اوخپل ناکامويو پټولوته نوي پلانونه پلي کړي اويا پرې پرده واچوي.

ولې شمال غوارې چې دجنوب نه جلاشي:

ددې خبرترشا درې عاملوته کولې شو اشاره وکړو:

۱- داچې بېرونی لاسونه کارکوي چې په کې دامريکه اوناټو ترځنګ روسيه هم لاس لرې اوروسيه هم امريکه سره په دغه پلان که چه افغانستان دې ټوټې شي لاس لري ځکه چې نه غوارې دطالبانوسره خپل شمالی سرحد شريک کړي.

۲- دايران فرهنګي ايرغل ترځنګ دځينو تاجکتوکومو بيلتون غوښتونکو اوپوډله هزاره ګان سره يو ځي شوي اوغوارې چه ځانته يو مستقل هيوادجوړکړي ، دوي چه دقدرت تږي دي فکر کړی چې دلته پښتانه هميشه اکثريت دي اوموږته نوبت نرسيږي چې باچائي وکړو۰

۳- په خپله پښتانهٔ دي چې دغه خبرې ته ئې ځه ناځه لاره هواره کړې ده، زه مافی غواړم داچې ولی داخبره کړم خو دايوتريخ حقيقت ده چه ترينه انکارنشوکولای، زموږپښتانه ورونه بايدورته ځير شي که تاريخ دپښتونه ته نظرواچونوبيا موندلي شوچې داقام هيځکله په خپلومنځوکې سره جوړنه و که ځه هم ددښمن سره په جنګونوکې تل يوځای پاتې شوي دي، بله داچې؛ تراوسه پښتانه دسوادله نعمته ئې ځان بې بهرې پريښې تل دمکتب سوځولوکې لمړي مقام لري اوهغه ځوک چې مکتب ته ځي هغه ته کافر وائي په داسي حاليکه که ترينه پوښتنه وکړې نو دکافرپه معنی هم نپوهيږي ،چېرته چې بېسوادی ده هغه دپښتنوپه سيمه کې په تېره بيادانجونې خولا ښځي ترينه محرومی پاتې شوي دي فقراوفلاکت، جنګونه، ورووژني ، تربګنی چه پښتونته يودود او رواج ګرځېدلي، پښتنوکي هيڅ څه ژوندي سرې نه پيداکيږي اوهيڅ بد مرې پکې نه پيداکيږي، زموږ دژوند بد مرغي له همداغه ځايه راپيليږي، که زموږ يوسړی خوش شي بياهرڅه ترينه ځاره و که ځه هم ډيرې نيمګړتياوې اوبدکردار ولري، اوکه ځوک موبدبشي که هرڅومره لوړشخصيت وي اوډيرې خېږنې ولري بس زموږ چرګ يوه پښه لري نوروورته ښه نوايواوبس، چاسره روغه جوړه نکړو که چاخبره وکړه بياورته کافر، وملحد ، کمونيست، وايوپرته لدې چې خپله خبربادې موسوچ کړې وي، داځکه چې په موږکې دسواد اوپوهې فقرده نو ځکه موږ دښه اوبدتوپيرهله کوو چې موږته سخت زيان ورسيږي نوبياپوه شوچې دا زموږ دښمن دي اوبيازموږ جنګ اودښمنی کلونه کلونه دوام مومي.

نوځکه دغسې رواجونه اودغسي تکلار،تاجکان او ازبکانوته چندان دزغم وړنه ده اوزموږسره نه غوارې چې ژوندوکړې دا عامل ياعلت د دې سبب شوې چې ډير دښمنان له دغه نيګړتيانه فايده وچته کړې اوځنې تاجک اشخاص دخپلومقصدونه لپاره استعمال کړې.

لوړقدرتونه په تېره بيا امريکا غوارې چې په جهان باندې حکومت وکړي اوهرڅه چې فرمان ورکړي هغه دې بايد وشي نود دکارلپاره بايدملکونه سره وويشي چې ليوخواورته دردسرنشي اوله بلې خوا دوې وشي کولی چې د دغوملکو له معدنی زيرمونه فايده وچته کړی ،وګوری لس کاله وشوو چې امريکا په افغانستان کې شتون لري په دې لسوکالوکي کوم داسې ستراقتصادي ګام چه امريکا وچت کړی چې دهغه سره دافغانستان بنسټ (بيخبنا) کې تغيير راغلي وي هيڅوک کې نشي راښودلی ،که زموږ اردو سره ئې څه کړي هغه هم د ځان دخوندي کولولپاره چه داپه حساب نه راځي اوهم ئې دکې خپلې ژوړې ګټې دي چه ترسوافغانستان ده، نودامريکانه به وسله رانسي ، دکمې ورځې چه امريکه افغانستان ته راغلي ده تراوسه پورې يواځې اويواځې پښتانې ځپلي دي ترسودې دوي غرور اوميړانه ماته کړي کله چې داسې هيلونه نااميده شونوبيائي رنګارنګ بهانې شروع کړې چې ترسو نورقامونه دپښتنوپه خلاف راوپاروې۰

ايادطالبانوسره واقعاًکرزی صلح کوله که امريکا:

دطالبان رامنځته کېدل چې دپاکستان وامريکا په ګډکارترسره شو خوورسته ترينه پاکستان دغه غورځنګ په خپله ګټه استعمال کړپه دې برخه کې ډيرې ليکنې شوي زه نه غواړم چې ځه ووايم خوداوله ورځ دامريکا ډيرتلاش وکړترسو چې طالبان وځپې وپه واقعيت کې بايد ووايم چه پښتانهٔ وځپې داځکه چې امريکه غوښتل اوغوارې چه په دغه منطقه که پاتې شي نوتنها له چانه چې ئې ډېره کوله هغه پښتانهٔ و نو ځکه ئې دطالب په نوم د پښتنو په تکولو لاس پورې کړکنه خو ړوندهم په دې خبره پوهيږې چې تروپزم چرته و او ده۰خوکم تاريخ چه پښتنو درلود اولړي امريکه ځانته داحق خوندي ساتلي وه که کومه ورځ دماتې سره مخکېږي نوهغه به دپښتنو له اړخه وي کوم عقل به دا ومني چه تريرونه پوری طالبان پرضد جنګ روان و، او ده؛ او اوس «جوبايدن» وائي چې طالبان زموږ دښمن نه دي



افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

نوتراوسه داجګړه دځه لپاره وه اوده، دلته داخبره دښاغلي «جوبایدن» دښاغلي «بارک اوباما »دهغي شفاهی خبروپرخلاف ده چه د۲۰۰۹ کاله کي دافغانستان په اړوند وکړه چه غوره ټکي ئي دادي:
۱- دافغانستان دولت یو انتخابی دولت ده خواداري فساد دغه دولت ضعف ده٠
۲- افغانستان دطالبانومرکزده بایدپه ټول توان اوقوت دطالبانوپرضد  قدم وچت کړو٠ طالبان بی له مرګه اوورانی بل څه افغانانوته نه دي ورکړي٠
۳- دطالبانوپرخلاف دجنګ دسختولوسره سره موږ صلح اوروغه جوړه  په پام کي هم ساتو.
۴- موږته ،دطالبانولاس ته دافغانستان دوباره ورتګ اودي دوي سلطه په پاکستان دزغم وړنه ده دغه نه زموږ بلکه یونړی وال غوښتنه هم ده.
۵- زه (بارک اوباما)دطالبانو اوتروریزم پرضد دمقابلي له پاره سمدستي د(۱۷۰۰۰) سرتېرو لېږلوامر ورکوم اوته راتلونکي څومیاشتوکي د(۴۰۰۰)نوروسرتېرو اونظامی اوملکي مستشارانو، ژباړونکود لېږلوهوډبه ترسرکړم٠ وس داسي ښکاري چي دالته دولوبي په لاره اچولشوې وي:
۱- امریکي داسي سوچ کاوه؛ که طالبانوته موماته ورکړوخونورالله نور٠
۲- اوکه ومونوشوکولي نو بیا به بله لوبه مخته کړ هغه دي روغي اوجوړه دطالبانوسره٠
دوي(طالبانوته )به یوځوولایتونه وروسپاراوشمالی ټلوالي ته هم یوځوولایاته وروسپارو په دې اساس به پخپل ماته هم پرده واچواوهم به جهانته داوښییوچي موږ افغانستان کي سوله ټینګړه کړه اودابه یو کردت شي دنورو امریکایانولپاره٠
ښاغلی کرزي اصلاً په دې کي کوم رول ندرلوده دامریکه خبری له ډېروخته له ډوی سره رواني وې ښاغلی عبدالحکیم مجاهد تیارپه امریکا کي ورته ناست وخودطالبان اختیارزیادپاکستان په لاس کي وه چي دې کارپه خبروکي ځنډ رامنځ ته کړي و اوده، نن ورځ په قطرکي دطالبانو ددفتر له جوړېدلو ورسته دا څرګنده  شوه چي ښاغلي کرزي هسي بي ځایه دطالبانوسره دسولي ناري وهلي اونه ئي په دا خبروکي رول درلود، نوځکه چي ښاغلی کرزی ناراضه ښکاري اوداناري وهي چه داخبري باید ددولت په مشرۍ ترسره شي٠
کمي خبري چي په برلین کی دیوشمیرجنګ سالارانو چه په افغانستان کي هیڅوک ترینه ښه زړه نلري دیو شمېر امریکا کانګرس میناوسره چي دځینوهویت لاتراوسه پټ ساتلشوي ده دجنورۍ په اتمه او نهمه نیټه ترسرشوې دا په برالاتوګه دامریکا اوناټو ماته بربنده وی اودوي غواړي چه په دې پلمه په خپلو ماتو پرده واچوي٠
داکاردټولو جهانی حقوقو اوقوانینوخلاف یوعمل اودافغانستان سره ستره جفاده طالبان دی هم پدی پوه شي داسي کارد ونکړي چي بیاافغانستان دیوبل جنګ سره مخ کړي صلح دامریکایانو سره نه بلکي سوله دافغانوترمنځ باید وشي دا دافغانستان اوسیمي په ګټه ده٠
نن ټولوافغانانو جهان لیدلي نن ورځ نشي کېدای چه یوداسي حکومت په خلکو مسلط شي چي ساری ئي په نړۍ کي نه تیرشوې ده اونه به تېرشي نوکه دې ټولو خلکو نظرو کلتوراوفرهنګ ته درناوې وشي دابه یواځنی لاره وي دسولي اوجنګ پای لپاره ښه مثال دتونیس کي اسلامی حکومت په ترکیه کي اسلامی حکومت کېدای شی دابه دافغانستان سره جفاوې چه ملک له امریکه خلاص اوپاکستانته غلام کړي شي، غلام ده که دمسلمان وی که دکافردامهمه نده دیوسوکسوژوندبه پاکستان کي ښه وي خو هغوی  به ټول افغانستان خوري اویووېښته به خپلوګوډیاګانوته وراچوي٠
ومن الله توفیق

<u>اخځونه</u>

بی بی سی
ار اف ای فرانسه
دکابل اریاناتلویزون
اوانترنتي پاڼي  فریاد برای آزادی
وعدالت اجتماعی ،هشت صبح


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په خیر و لولـئ